مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۰۳/۲۵

# د افغانستان په هکله د پاکستان دښمنانه پالیسي

## (لومړۍبرخه)

افغانستان له ۱۹۴۷ کال را وروسته د پاکستان د نا مشروع را زیږیدو له پیل نه په سیمه کي یو له نادریزو ګاونډیانو څخه ګڼل کیږي، او د دې دواړو هېوادو اړیکي نه د مثبت او ښه ګاونډیتوب لورته، بلکې تل د پاکستان د منفي سیاستونو له امله منفي او دښمنۍ خواته تمایل موندلی دی، دا ځکه چي پاکستان په سیمه کي تل د نړۍ د استعماري تاقتونو د شومو موخو د عملي کولو په خاطر د یو لاسپاکې په توګه استعمال شوي، نو ځکه افغانستان خو لا څه کوي، حتا چې په خپلو ولسونو یې هم رحم نه دی کړي.

دغه جعلي هېواد چې د ډیورنډ کرښي په ختیځه خوا کي موقعیت لري، یو غاصب او د استعماري ګټو ساتونکی او پالونکی هیواد دی.

د دغو ستونزو او دښمنانه پالیسیو یو لامل د دیورند له هغه تړون څخه عبارت ده چي د افغانستان د پخواني امیرعبدالرحمان خان په دوره کي د انګرېزانو او بریتانوي هند له لوري په زور او ګواښونو پر افغانانو باندي تحمیل او تپل شوی دی.

په ۱۹۴۷ کال کي د انګرېزانو د دغې ظالمانه پریکړې له مخي د پاکستان د منځته راتګ او د دیورند د فرضي کرښې جبرې تحمیلول چې افغانان په خاص ډول پښتون ستر قوم یې په دوه برخو وویشه، له همغه پیل نه بیا تر ننه پورې، نه هیڅ یو افغان حکومت او نه هم عام ولس ته د منلو وړ دی.

تېر تاریخ ګواه دی چې د افغانستان هر حکومت د دیورند دغه منحوسه کرښه نه ده منلی، بلکې تیرو حکمتونو، نه د جګړو له لارې بلکې د تبلیغاتو او نورو سوله ایزو لارو یې د دغې داعیې یادونې کړي ده.

ټولو ته معلومه ده چې د ظاهرشاه په حکومت کي یوځل کله چي داوود خان لومړی وزیر وټاکل شو، د پښتونستان مسئلې دومره زور واخیست چي نږدي و دواړه هیوادونه جګړې ته داخل شي، خو پېښه بیرته د ډیپلوماتیکو اړیکو له لارې هواره شوه او داوود خان مجبور شو چي استعفا وکړي، دا خبره د دې مانا لري چې افغان حکومتونو هیڅکله له پاکستان سره د جګړې غوښتونکي نه وو او نه دي، خو پاکستان تل هڅه کړې چې په افغانستان کې کمزوری نظام وي، نا امني وي او د افغانستان سیاسي او بهرنۍ پالیسي د پاکستان تر اغیزې لاندې وي.

دا یو روښانه حقیقت دی چې د داود خان د ملي حاکمیت او قانوني نظام پر ضد څو تنه هېواد پلورونکي او د پردیو استخباراتي کړیوخرڅ شوي اجېرانو پاکستان ته پناه یوړه.

پاکستاني جرنیلانو او ای اس ای د خپلو سیاسي موخو د پلي کولو له پاره، چي د افغانستان نا ارامي او کمزورتیا بلل کېده ښه موقع تر لاسه کړه، په خاص ډول د شوروی یرغل وروسته یې په جوړ شوو کمپونو کې د افغان په نوم مجاهدینو په پراخه روزنه لاس پوري کړ، اووه هېواد ورانونکو تنظیمونو ته یې په بیلا بیلو سیمو کې کمپونه جوړ او نظامی وسایل، تجهیزات یې ورکول او د ورانکاریو او افغان وژنو له پاره یې افغانستان ته رالیږل، چي دغه روزنو او زموږ ګران هېواد افغانستان ته یې د رالیږلو توطیو یوه لسیزه دوام وکړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

د هغه وخت افغان حکمتونو هر ډول هوايي او ځمکني قوونونه درلودل، مګر د ښه ګاونډيتوب او نړيوالو اصولو د مرعات او درناوي په خاطر يې، نه د پاکستان پر حريم تيرى وکړ او نه يې کوم بمبارد وکړ، مګر خپل اواز يې يوازې د ډيلوماتيکو اړيکو له لارو پاکستاني مقاماتو او نړيوالو سره شريکوه.
په دغه لسيزه کي پاکستان د امريکا غربي او عربي هېوادونو نه په مليارډونو ډالري او بيلا بيلي انسان وژونکي او ورانونکي وسلي تر لاسه کړې او زموږ ګران هېواد د دغو وسلو د استعمال او نيابتي جګړو د ازموينو ستر ميدان وګرزيد.

د خلق ديموکراتيک حکومت په وروستيو کي پاکستان د افغانستان د رسمي حکومت په شتون کي، په پېښور ښار کي د يوې غير قانوني جرګې له لارې د ټولو نړيوالو اصولو خلاف د امريکا او سعودي عربستان په مرسته د مجاهدينو جلا وطنه حکومت جوړ او اعلان کړ.

په ۱۹۹۲ کال کي د داکتر نجيب د حکومت تر پرځېدو وروسته پاکستاني استخباراتو په رسمي ډول افغانستان ته لاس را وغزوه او د جمعيت تنظيم د مشر بحران الدين رباني (شوراى نظار) دغو هېواد دښمنو سره په ګډه يې د افغانستان د کلونو جوړ شوي نظام، وسله وال پوځ، وسايل، هوايي پياوړى ځواک او ټول امکانات يې دړې وړې کړل او څه چې لا پاتې وو، پاکستاني جرنيلانو ته يې ډالى کړل.

پاکستاني جرنيلانو د خپلو شومو موخو د عملي کولو په لار کي تر ۱۹۹۴ کال پورې د تنظيمي حکومت او بيا وروسته تر هغوي د طالبانو نه خپل ملاتړ پيل کړ.

ټولو ته معلومه ده چې پاکستان په سيمه کي يو له هغه هيوادونو څخه وو چې د طالبانو لمړى حکومت يې د نورو ګاونډيانو پر خلاف په رسميت وپيژند او خپلي هرې ترهګرې ډلې ته يې لاره هواره کړه ترڅو په افغانستان کي نفوذ وکړي.

پاکستان د خپلي نيابتي جګړې پر مهال د پاکستان له جمعيت علماء اسلام ګوند څخه د نورو په پرتله زياته ګټه پورته کړه او لوى شمېر طالبان يې له همدغي لارې افغانستان ته د جګړې له پاره راالېږل.

په ۲۰۰۱ کال کي د طالبانو تر سقوط وروسته پاکستان له نوي موقت افغان حکومت او بيا وروسته له منتخبو حکمتونو سره رسمي اړيکي پيل کړې، خو خپله دوه مخي يې د پخوا په څېر روانه وساتله او تر ۲۰۲۱ کال پورې يې د کره ثبوتونو پر اساس د افغان حکومت مخاليفينو ته پخپل هيواد کي ځاى ورکړى و.

ټولو ته جوته ده چې پاکستان له ډېر وخت راهيسي د افغانستان په وړاندي تجارتي اوسوداګريزه جګړه هم روانه ساتلي او ټل يې د افغانستان د مېوو او سبزيجاتو د رسېدو پر وخت د ډيورنډ د فرضي کرښي سرحدي دروازې بندي ساتلي دي، چې له دې امله تر دا مهاله افغانستان ته ميليونونه ډالر تاوان اړول شوي دي،دا ځکه چې افغانستان کومه بحري لار نه لري او اړتيا لرى چې د کراچي په بندر اکتفا وکړي. د پاکستان ددغه تجارتي جګړې په وړاندي يو ځل ولسمشر اشرف غني هوايي دهليزونه رامنځ ته کړه چې افغانستان ته يې تر ډېره پورې اقتصادي ګټه ورسوله او دا دى اوس طالب چارواکي هم د نور بديلونو او لارو په پيدا کولو اخته دي، چې کيداى شي هېواد مو له دغو لارو د پاکستان له تجارتي او سوداګريزو اغيزو او ګواښونو نه خلاصون ومومي.

نوربيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ